فرهاد ویاړ


۲۴.۰۹.۰۹

## رګه، د جامائیکا انقلابي او ولسي موسیقي

رګه، د نورو موسیقي ډولونو تر څنګ هغه ولسي او انقلابي موسیقي ده چې د پنځه وچو پر موسیقي پوهانو یې ډېره اغیزه کړی ده او په بیلابیلو هیوادونو کې یې موسیقي ته نوی بڼه او منځپانګه ورکړی ده. دا موسیقي چې یوازې نژدې ۴۰ کاله سابقه لري ترنم یې په مرکزي افریقا، استرالیا او اروپا کې د ولسونو پر شونډو زمزمه کیږي او آهنګ او جوړښت یې د ولسونو په زړونو کې د هیلې، مینې، مبارزې او پرتم او برم لمبې رڼا کړي دي.

د رګه موسیقي د کارائیب سیند په یوه ټاپو (جامائیکا)کې، چې د افریقا او شمالي امریکا د کلتورونو د تلاقي ټکی ګڼل کیږي، زیږیدلی ده. د ۱۹۶۰ لسیزې په اواسطو کې جامائیکا ښار ته د کلیو څخه دردونکی مهاجرت پیل شو (د ۱۹۵۰ لسیزې په لومړیو کې امریکایي پانګو د جامائیکا پر کلیوالو سیمو خیټه واچوله. د امریکا او انګلستان د المونیم د تولید کمپنیو د دهقانانو ځمکې غصب کړی او ډیر شمیر کسان اړ شول چې د کینګستین بندر چیرې چې له ډیرانونو ډک و، کډه وکړي او هلته حلبي جونګړې وداني کړي) او دا جامائیکا ښار ته رامات شوي کډوال وو چې د رګه موسیقي یې وپنځوله.

د رګه ترانې د همدې دردونکي مهاجرت او د بیوزلي او نیستۍ جګړې ته ځي او له همدې امله ډیر ژر د هغو هیوادونو د انقلابي او ځپانده ځوانانو پام ځان ته راګرځوي چې د امپریالیستي هیوادونو تر استعمار لاندې ځورول کیږي.

د ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ دوو لسیزو په بهیر کې د جامائیکا یو پر اتمه برخې مهاجرت وکړ. په دې کلونو کې ټولنه په دوو قطبونو وویشل شوه، داسې ژور طبقاتي توپیر رامنځته شو چې ساری یې په دې سیمه کې لیدل شوی نه و او د جورج ایلزاک، د رګه موسیقی د وتلي څیرې په وینا: «جامائیکا واقعا چې د سپین پوټکو د جنت په منځ کې د تورو دوزخ و.» ډیر شمیر ځوانان وزګاره وو او بیوزلي ورځ تر بلي زیاتیده او د همدې نیستۍ او وزګارتیا او فرهنګي یرغل په منځ کې و چې رګه موسیقي د ولسونو د قهر د توپان په شان د امریکایي امپریالیزم د سترګو په وړاندې راپورته شوه. ستمځپلي ولسونو امریکایي صادراتي موسیقي په خپلي طریقې سره بدله کړه او د امریکایي وارداتي موسیقي د ضرب په استفادې سره د حلبي جونګړو آواز او د قهر فریادونو د دې موسیقی په ریتم کې ځای ونیو.

په ۱۹۶۰ لسیزې کې ولسي پاځونونو د نړۍ په ګوټ ګوټ کې امپریالیستي او ښکیلاکګر هیوادونه د سختو ننګونو سره مخامخ کړل چې جامائیکا هم د دې انقلابي او ولسي غورځنګونو شاهد و. ډېر ژر د متحدو ایالتونو د تور پوټکو د خلاصون د غورځنګ څپې د جامائیکا کینګستین بندر ته هم راورسیدې چې د ولس له کلک ملاتړ څخه برخمن شو. د رګه موسیقۍ تر ټولو مشهورې ډلې، ویلرز، غړي د لومړي ځل لپاره د امریکا د تور پړانګانو د ګوند د یونیفورم په شان د چریکي یونیفورم په اغوستلو سره کنسرتونو کې راښکاره شول. څرنګه چې د پانګوالي نظام هر څه د خپلو طبقاتي موخو لپاره کاروي نو د رګه موسیقي هم د بې خونده عاشقانه او ارتجاعي سندرو قرباني شوه خو د دې سره سره په ټولیزه توګه د رګه غوره موسیقي پوهان هغه وو چې د ښکیلاکي سیستم په وړاندې فرهنګي جګړه مخې ته وړله. دې ډلې د هغه مسیحیت په وړاندې چې د ښکیلاک ملاتړ یې کو او پر ټولنې یې استبداد واکمن کړی و د افریقا دودیزې فلسفې او نړۍ لید ته مخه کړه. که څه هم دې دودیزې فلسفې ډېر مذهبي، خرافي او ارتجاعي اړخونه لرل خو د ښکیلاکي ایدیولوژي په وړاندې یې مبارزاتي رول لوبو.

د رګه موسیقۍ د یو نامتو سندرغاړي، باب مارلي، چې په ۱۹۸۱ کال کې په مرموز ډول له نړۍ سترګې پټې کړې، په ترانه کې اورو:

زړه مې غواړي کلیسا بمبار کړم
پوهیږی چې واعظ درواغ وایي
د خلاصون د لارې مبارزین په جګړه بوخت دي
څوک غواړي په کور کې پاتې شي؟

د افریقایي دودیزې فلسفې پلویان، چې پر ځان یې د راستافار نوم ایښودلی، په هیڅ ډول نه غواړي د هغه نیکمرغه ژوند په تمه پاتې شي چې مسیحیت یې له مرګ وروسته ژمنه کوي. دا مکتب، د تورو آزادي د همدې ځمکې پر مخ غواړي او د داسو ترانو په ویلو سره د مسیحیت پر توهمات چې د افریقا او لاتیني امریکا د ستمځپلو پر مبارزې او نړۍ لید اغیزه کوي، ملنډې وهي. د رګه په یوې بلې ترانې کې ویل کیږي:

هغوی په هغه جنت کې خوږې ژمنې راکوي چې له مرګ وروسته زمونږ انتظار کوي
خو له زانګو څخه تر قبره پورې هیڅکله زمونږ فریادونه نه اوري
نو په ډاډ ـ له هغې ډاډ سره چې د لمر په ځلیدلو یې لرم
ځم چې حق مې واخلم ـ څوک چې باد کري توپان به ریبي
زه پټیم چې یو مړ میرنی ووسم نه یوه ژوندي نانځکه یا ژوندی برده

رګه موسيقی د ولسونو په زړونو او ماغزو کې ځای موندلی دی او له همدې امله ډيری تور ولسونه، د رګه هنرمندان خپل سياسي استازي ګڼي. همدا دليل دی چې د رګه سندرغاړو ژوند ستونزمن او د بيلابيلو ګواښونو سره مخامخ دی. په ترانو کې د استبداد، ښکيلاک، بيوزلۍ او طبقاتي توپيرونو پر ضد فرياد او د پاڅون هڅونه د دې موسيقی د سندرغاړو د حبس او ځورونې لامل کيږي. پوليسانو په کراتو د رګه سندرغاړي وهلی او ټکولي دي او دې هنرمندانو مودې مودې په زندانونو کې تيرې کړي دي او آن په بيلابيلو پلمو د هغوی د ترانو د خپريدلو مخنيوی شوی دی. په تيرو کلونو کې لږتر لږه د دې هنرمندانو څخه لس کسان په شکمن ډول مړه شوي دي. د پيتر تاش په نامه د رګه يو تن تر ټولو راديکاله سندرغاړی چې د جامائيکا هستوګن و نژدې شل کاله وړاندې د خپلې ميرمن او اولادونو سره د مردکيو په باران سره ووژل شو. خو د رګه موسيقي هيڅکله شاته نشوه او د ولسونو په مبارزاتي بهير کې امپرياليستي سيستم ته يې داسې خطاب وکړ: «ته کولای شی ونه پری کړی – خو هيڅکله، هيڅکله به بريالی نشی – ځکه چې يوه ريښه هم شته – او ته نشی کولای زمونږ له شره خلاص شی.»

دا هم د پيترتاش او باب مارلي د «ويښ شی – پاڅيږی» ترانې يوه برخه:

ويښ شی، پاڅيږی، د خپل حق لپاره له مبارزې مه ودريږی
ډيری فکر کوي چې له آسمانونو څخه به ورته لويه ډالۍ راوليږل شي
ستونزې به حل شي او ټول به ښاد او خوشاله وي
خو نه پوهيږئ چې زمونږ ژوند څه ډول دی
خپل حق مو په دې دنيا کې تر لاسه کړی
لاره درته روښانه شوی ده
واعظ راته په غوږ کې وايي چې جنت په بلې نړی کې دی
وايی زه پوهيږم، ته نه پوهيږی چې د واقعي ژوند معنی څه ده
نور د دې سجدې او تسليم له لوبې ستړی شوي يوو
حوصله مو سر ته رسيدلی ده
مونږ پوهيږو او پوهيږو چې ځواکمن خدا همدا ځمکنی موجود دی
کولای شو يو شمير کسان تر يو وخته دوکه کړو
خو نشو کولای ټول د تل لپاره دوکه کړو
نور لاره مونږ ته روښانه شوی ده
ويښ شی، پاڅيږی، د خپل حق لپاره له مبارزې مه ودريږی.